په جريده کي داسلام اوافغانستان دتاريخ دخبرولو په باب تجويزمويرتيك تجويزدي موږلادمخه هم په دي باب يوځه تصميم نيولي هيله ده ديږزرخپلي خوښي مطلب په شهادت کي ولولي . درنښت

###

له دري بازارنه گران وږور عبدالقهار !

وروره ګيله اوغوسه موبواره پرځاي خوخبره داده چي موږ ستاسي داشتراك له وجي نه ميو خبر نږ وروڼه غواړي چي په شهادت کي ګډون وکړي اوستاسي دليك په

(٦مخ)

مجاهدافغان يم

لاس کي مي خنجردي په اوږه ټوپك روان يم
مجاهدافغان يم
ازميښت دسربازي کي ددي عصر قهرمان يم
مجاهدافغان يم
دين لرم ايمان لرم
عهد اوپيمان لرم
راهنما قرآن لرم
تکبير زماوسله ده مجهز هم په ايمان يم
مجاهدافغان يم
غوارودعظمت ژوندون
پاك دشرافت ژوندون
ننگ اودغيرت ژوندون
دي هدف لپاره دباطل سره تل وران يم
مجاهد افغان يم
يم دالحادپه ضد
فسق اودفسادپه ضد
ظلم اواستبداد په ضد
خپله مسلمان يم طرفدار دمسلمان يم
مجاهد افغان يم
څواسلام حاکم نشي
گوټ گوټ کي محکم نشي
کوږ که چيري سم نشي
توره به کښينږدم ترهغه چي په جهان يم
مجاهدافغان يم
گوره ملاتړلي يم
ظالم پسي وتلي يم
نه ني پيژندلي يم
زه دهرانسان په دښمن تندرد آسمان يم
مجاهد افغان يم
چي گوري مونږ ته سپك
تري کي به ني گرم ورك
هندووي اوکه سك
قسم دي ماخوړلي اي "فاطمه" مومن ځوان يم
مجاهد افغان يم

انتخابات

سيديعقوب فاروق "طالع"

بگوش آيد صداي انتخابات
گوارا نغمه هاي انتخابات
بدردملت ماچاره سازد
يقين ميدان دواي انتخابات
طلسم دشمن غدارشکست
زبس شوروئواي انتخابات
به مکروحيله بازي راه نبود
درخشد گرلواي انتخابات
ميان همت خودبسته محکم
که ومه ازبراي انتخابات
زرهبر تابه رهرو هرکه باشد
بريزد طرحهاي انتخابات
به طرزوشيوه اسلام بايد
اصول ومحتواي انتخابات
طلوع شمس پيروزي قريب است
چه خوش باشد فضاي انتخابات
حکومت مردم وقوم ازحکومت
همه حاضر بپاي انتخابات
گمارد ملت مااهل کارش
بگيرداز رداي انتخابات
بروطالع توهم سري بدخشان
شدي هيئت براي انتخابات
#####

فيض قناعت

چون مفلسي که صاحب کلدارميشود
اخفاي راز بين که چه دشوارميشود
فيض قناعت است که درسينهٔ صدف
يك قطره آب ، گوهرشهوارميشود
تاچند توسني بکند نفس بي لگام
بايك شلاق ، مرکب رهوارميشود
تصميم وعهدمايهٔ فرزانگان بود
زين شيوه زند گيست که پربارميشود
درهمدمي مانبري لذت حيات
کاينجا هميشه يار به غم بارميشود
دل باختي به سيم وزراينجهان وليك
اين خاك سرخ برسرت انبار ميشود
دل درخداي بندكه ازين لطف او
پست وبلند ، يکسره همموارميشود
ازطبع تيره گان ندمدآيت صفا
هرچند التفات تو تکرارميشود

خدايا

محمدصديق عابدي

تاچند کشم محنت غمخانه خدايا
لبريزشده صبرزپيمانه خدايا
اشك الم وحسرتم ازديده فروجست
دربسترتنها وغريبانه خدايا
آواره درين شام سيه خانه بدوشم
زين جاده به آن جاده چوديوانه خدايا
خاکست مرافرش بود بالش من سنگ
عمرم همه بگذشت به ويرانه خدايا
جزگريه وافسوس مراعيش وطرب نيست
چون نيست مراخانه وکاشانه خدايا
ازبسکه تپيدم همه‌بال وپرم سوخت
درآتش سوزنده چوپروانه خدايا
رحمي بنما باري به صديق پريشان
صدبارکنم سجدهٔ شکرانه خدايا

روان مي انقلاب

محمدظريف "نقشبندي"

ازمون دتاريخونو سرلوري زه وتلي يم
زمري دحق سنگريم په هرغليم غښتلي يم
گواه دي تاريخونه نن څما په کارنامو گوره
دگرد معرو کوکي قهرمان هرچاه منلي يم
دتورو ئنباني څماپه سرد سومنات بنکا ري
بچي دابدالي يم ددبلي په تخت ختلي يم
هيبت مي دغورزنگ دښمن په خوب کي لرزولي دي
فاتح دپاني پت يم دنباړه پيژندلي يم
مات کري مي غاښونه دانگريزيه زور گوياتودي
شاهد باالاحصار دکيوناري په سرد انگلي يم
شمله مي دغيرت په ملتونو کي اوچته ده
زانگودغيرتونو کي وړوکي زنگيدلي يم
څماانقلاب مخه نيولي شرق اوغرب نشي
په پتو دسيسو ددښمنانو پوهيدلي يم
روان مي انقلاب دي ړنگوي به دالحاد مانې
په لورو تکبيرونو دملحد مخ ته وتلي يم
داداستکبار بوتان تري کي ماتومه‌نور
دحق دمنکرانو بتخانوته ټهريدلي يم
شرمه توردبوان دخوږ اسلام له چمنونه
داده فيصله څما جها دته ملاتړلي يم
حقوق دمظلومانو ددبوانوله خولي باسمه
دفاع دمظلومانو ته نقشبنده دريدلي يم

چقدرخوب

از: مرحوم استاد صوفي عشقري (رح)

يکدست شوند جمله مسلمان چقدرخوب
گردند ازين کرده پشيمان چقدرخوب
چون عاقبت وحاصل اين رويه خرابست
سازندرها دست وگريبان چقدرخوب
هرقوم نمايد بحق خويش قناعت
لاحول بخوانند به شيطان چقدرخوب
آتش زدن يکديگري کارخردنيست
شينند اگر برسريك خوان چقدرخوب
زين گفت وشنيدي که شنيديم چه حاصل
خوانيداگر آيت قرآن چقدرخوب
اي عشقري چون اين من وماسودندارد
آريم اگر سربگريبان چقدرخوب
فرستنده - ن - ن

دي ماته شهيد ورورويل

دسوريل له کمپ نه "محمدجميل درويشيار"

ماته شهيد ورور ويل چي مه ژاړه
دازموږ آرزووه دځيگان خبري نوري دي
دابه نن لاس جنگ موله ترپونو اوتانکوسره
داخوږ آزميښت دامتحان خبري نوري دي
چاچي داځما دتوري شرنگ پوځل لبدلي دي
هيري ترابده دخپل ځان خبري نوري دي
جنگ دسومنات څما په ټول جهان شهرت لري
داسي مي خوري په هندوستان خبري نوري دي
ليك مي تواريخ دي دلندن په کتابونو کي
نوټ دمکنانن اواکبرخان خبري نوري دي
فخر افغاني جوني کوي په ملالي باندي
نوي افتخاردناهيدجان ، خبري نوري دي
وابه سوروسي ته خوشرم حيا نلري
ستا خبري نوري دجهان خبري نوري دي
ته خودوبتو په زور رښتياخبره نه مني
پته درته شته دي دميدان خبري نوري دي
ته مي لا آرام به ځانځاني کي چيري پري نشوي
شم که متحد بيا مي دتوان خبري نوري دي
ته دتوپونانك خبري کره اوپري مغروراوسه
زه په رب (ج) مين يم دمنان خبري نوري دي
پاتي که ماشوم شي هم له تابه انتقام اخلي
دامي تعهد دي دايمان خبري نوري دي
لوريه بخارااوسمرقند کي تکبيرونه شي
حمد به وي نعتونه دآذان خبري نوري دي
غونډي اوجلسي به په مسکوکي دميلادوشي
داسي دښت اودقرآن خبري نوري دي
نو :
سرپي خپل خوړلي چي چابدراته کتلي دي
وري بي په زړه ترگورستان خبري نوري دي
لاس بي قطع شوي چي چاگل ته بردي کړيدي
داځما دين اوديوستان خبري نوري دي
غرچي درويشياره موږگران افغانستان نه وي
بندي مي په خوله ، قلم ، ديوان خبري نوري دي

امان الله نصرت

دتل قومندان زاهد صاحب په ياد
تاښه په تره په غليم باندي حملي کولي
په پينگ ايمان دي نل دروس مقابلي کولي
له سره تيروي به اسلام د پاك سبحان سپاهي وي
نه غيرتي وي ميرني وي مسلمان سپاهي وي
سنالة نامه نه به هست وو دروسانو زړونه
نه دجهاد دسنگرونو باايمان سپاهي وي
دحق به لارکي دي شپه ورځي شوگيري کولي
زاهده ! نه مرديدان وي خدمتگاروي ددين
نوره ميړانه دي خاصه وه لوي پاسداروي ددين
تاداخدشهيدانو لورمقام وگانه
نه دسرورونو به بدل کي خريداروي ددين
په هرميدان کي دالحاد برضد جگړي کولي
تاپاك الله ته دسرورونو نذرانه ورکړله
ناقرباني کي خپله ربه جانانه ورکړ له
اي دجهاد دقافلو سنره قايده ورور ه
دوطن موږته دي دوينو بيمانه ورکړله
لويه غازي دشهادت دي ارادي کولي
تادمنزل لاره کي بلي کري دوينو ډيوي
وي سنايه وينو نه روښانه دوخطونو ډيوي
تاکري رنگيني دجهاد دکاروانو نو لاري
نوبوي اوښکي سنايه ياد دتاريخو نوبوي
په پاك احساس دي اسلامي مبارزي کولي
سردي قربان کړ دخپل دين اودقرآن په مينه
تاخوزژوندون کروسيلي دپاك سبحان په مينه
وايي نصرت لوي او واره دي په نامه تاريخ
نه شوي شهيد دآزادي دپاك آرمان په مينه
تاهرسنگر کي دتکبير خوږي ناري کولي

شعر وادب

اي رادمردحق

عبدالحميد "پنجشيري"

اي رادمردحق که ندادرنداي توست :
اي رادمردحق که ندادرنداي توست
دشمن زبون پنجهٔ زور آزماي توست
ازناوك توچشم عدوکورگشته است
اين نصرت قريب زلطف خداي توست
پهلوي خصم چون بدْيدي به تيغ تيز
ازهمت بلند وزعزم رساي توست
امروزخصم توزده زانوبه پاي تو
ازلطف ومهرباني ورحم خداي (ج) توست
عفريت شرق خورد شکست نبردتو
ابليس غرب پندپذيرا زصداي توست
الحق که گوي مردي ربودي توازهمه
عالم هميش شيفتهٔ کارهاي توست
ايزد هميش شان تراذکر کرده است
ازپاعشي که اين همه تحسين سزاي توست
اين شوروهمهمه که به پاگشت دريورپ
ازپايمردي تو، وازرنج هاي توست
باورنداشت خصم سيه روي تولبك
بشکسته شاخ کبروي ازضربهاي توست
شکرخداکه ثبت شده بك بيك دگر
برمصحف زمانه همه حرفهاي توست
داني توباکه خيردرين راه پرخطر
قرآن پاك رهبروهم رهنماي توست
پانيز نيز هرچه بگوئي زنظم وشعر
ازپرتوعنايت ولطف خداي توست
#######

سمبول وحشت

- ا - ع "غزنوي"

مردم دردآشناي بي زروزورجهان
آله دست جنون زورمندان بوده است
هرکجايي بضعتي ،حق پروري بوده است وهست
پبهم اندرحلقهٔ زنجير زندان بوده است
ريزش انواع بم درکنج واکناف زمين
حرفهٔ ديرينه وحشي خصالان‌بوده است
کشتن صدها هزاران‌کودك معصوم وپاك
افتخاربس بزرگ غول خوبان بوده است
درکمين قتل عام مردم آزاده خو
سازمان صلح هم همدست ايشان بوده است
ديده ام سيل جنايت راکه بايد گويمت
شوروي سمبول وحشت درخراسان بوده است
نه به خلق خويش دارد رحم ونه بردبگران
گرهمي خواهي مثالش تاجکستان بوده است
هندوان هندرا بنگرکه بالات ومنات
درکمين کشتن جمع مسلمان بوده است
وحشت غرب ازوراي قاره هاي دوردست
درپي بشکستن آئين انسان بوده است
نيست درسراين دوتارا فکراستقرارصلح
اين سخن روشنتر ازخورشيد تابان بوده است
سال هاشد ميهن محبوب ماافغانستان
آله دست کثيف جبره خواران بوده است
اي عزيزي بس وگرنه مدعي‌ميگويدت
اين هم ازافراط پريان مسلمان بوده است

فراق وطن

محمدامان "فارغي"

نالد دلم بيادتوهردم وطن وطن
چون مرغ پرشکسته که گويد چمن چمن

تاتيرهجربار ودبارم بسينه خورد
خون مي برايد ازدل ريشم لگن لگن
يارب به پنبه زاروطن گررسانيم
زان پخته هاي پاك بپوشم کفن کفن
چشمم زکحل خاك وطن سيرکي شود
زان مشك اي نسيم بياورختن ختن
زان آبهاي صاف وطن گرين دهيد
نوشم زدست پاك شمايي لبن لبن
داغ فراق ميهن وياران هموطن
گل کرده است دردل تنگم چمن چمن
يارب چه ماجراست درآن سرزمين که باز
بامن نگفت قاصد شيرين سخن سخن
اي باداگربرادي کابل گذرکني
خاك مرابپاش بهرکوچه ون به ون
هرچندعاشقان توبيش است اي وطن
کوعاشق ملول درين انجمن چومن
ميخراست غنچه بشگفد همچون دهان يار
بادسحر وزيدوزدش پردهن دهن
يارب رسان نسيمي ازآن خاك فيض بار
تاجان تازه دردمدم دربدن بدن
مارااصلاح کارجز اندرسلاح نيست
آخه بزارهرچه که ايشون ميگن بگن
دور ازدبارزنده وبي بارخوشدلي ؟
اي بوالهوس تولاف محبت مزن مزن
گرنيست فارغي بکفت سيم وزرچه باك
دُرّسخن زطبع توبارډعدن عدن
خيراست فارغي که نداري توسيم وزر
نقدسخن زطبع تور بزدتن تمن
######

سنگ ملامت

استادبيرنگ

درسرم سوداي سروبوستاني مانده است
داغ هادرسينه ام چون گلستاني مانده است
سخت جاني ام نمود هردم شهيدونيم جان
زندگي برگردنم بارگراني ماندهاست
بينش دل راتعقل ميکند بي اعتبار
عقل بر دروازهٔ اوپاسباني مانده است
نفس سرکش شيوهٔ همواگيردعاقبت
عجزفرعون نزدموسي داستاني مانده است
گرچه دشمن شد ذليل وخواروروسواي جهان
کارما از خود سري باابن وآني مانده است
داده ايم ماهستي خوددرره ايمان ولي
طعنه سنگ ملامت استخواني مانده است
گريه خون خودشناكردند ورفتند عاشقان
درهٔ ازخويش رفتنهانشاني مانده است
باهمه دردنهان وسوزعشق جاودان
درکف بيرنگ ماتنها فغاني مانده است

ادب څه دي ؟ يا ادب څه ته وايي؟

محمدآصف صميم

داهغه پوښتني دي ، چي هميشه اوبيابيا په ذهن کي راولاړيږي اوان چي ديوه هراړخيز اوجامع ځواب په پيداکولوکي بي نوري نوري پوښتني راولاړي شي ، لکه واخلي په خپله دژوند . تعريف ،کائناتو په غيره داسان په ټولنيز نظام کي چي له پيل راسي دادب له پاره کوم نسبتاً منلي اوهراړخيز تعريف شوي ، هغه دادي چي

ادب دژوند انه دعکاسي اوانځورني نوم دي اوداهم بومنلي حقيقت دي چي ادب دکلمو اوالفاظو په اوږه اوبيته (نظم ونثر) انځوريداي شي اوبه کلمو او الفاظو کي فکر او احساسات دواړه نغښتي وي ، نوځکه ويلاي شو چي :
په کلماتو اوالفاظو سره داحساس اوفکروخيال ځرگندونه اوبرسيرونه ادب دي

دابوداسي تعريف دي ، چي يکي لږترلږه هره هغه وينا چي داحساساتو اوفکروخيال ځرگندونه وي اوله خولي ياقلم نه ووځي ادب گڼل کيږي ، هن ! داهم يادساتل يکاردي چي له خولي يادقلم له ژبي هره وتلي خبره ادب نه وي ، ځکه دورځپاڼي اوجريدي ستون اوکالم ياسرمقاله ادب نه گڼل کيږي ، سره له دي چي الفاظ هم يکي وي ، اغيز اوځواك هم يکي وي ، خوادبي ارځښت يکي نه وي ، مونږ هريو ليکونه ليکو خوادب په تعريف کي نه راځي ، خوددي برخلاف دجناب حمزه شينواري اوجعفراځگري ليکونه (انسان اوخداي)

دمولانا عبدالقادر مرحوم خطونه ، دروغ ليوني ، (بي بي نوره) اود استاد بينوا (دزړه خواله) دخپل ادبي ارځښت له امله هغه ليکونه دي چي سري بي په لوستوبلاي شي چي
ادب داسي يوي ليکني يالبك ته وايي چي لوستونکي تري خوند، کيف اولطف اوخوښي واخلي، او داهله کيداي شي ، چي الفاظ اومعني ، باشکل اومضمون داسي سره غاړه غوتي شي چي خوښه دجوهر تري وڅاڅي اوهمدغه دخوښي څڅيده دي، چي له يوه ليك نه ادب جوړوي له دغه وازليکني (ادب) نه زموږ الهيستي خوند اوخوښي زموږ په باطن او ضميرکي به هغه نغښتي احساس پوري اړه لري ، چي موږيي تصوير اوانعکاس په کي مومو اوهمداشان دغه خوښي په هغه معني کي هم پرته وي ، چي موږ درك کري اوترلاسه کري وي ، دغه شان ليکونه يالبکني هغه څه دي ، چي زموږ دشعور، احساس اوتجربويرزيرمه بي زياتوالي راوستي وي ، او زموږ احساس بي له داسي ناآشنا تجربو سره بلد کري وي ، چي له سره پري ناآشنا بي گومان نه شي کيداي ، ددغه وازليکنو اغيزاواثروختي اوموقت نه ، بلکي طبيعي اوزمان اومکان له قيده بهريه آفاقي رنگ رنگيدلي وي ، لکه درحمان بابا او اقبال شاعري چي نن هم موږدپرون په څير متأثروي اويه تجربو اوشعورکي مودخوښي احساس زياتوي ، نويه کومه ليکنه کي چي دغه ښيگړي اوځانگړي نغښتي وي هغه ادب دي ، اوچي څومره بي بيا دغه ښيگړي زياتي وي ، هغه ليکنه بيا دسترادب په لړکي راځي .

دادب په باب داخبره به ذهن کي ځايول په کاردي چي ادب په ژوند کي دڅه څيزمعاوضه يا بدل نه دي ، خوکه بياهم شي ، هغه به ادب نه وي ادب داسي يوه ځرگندونه اواظهار دي ، چي دژوندانه دشعور اوادراك دترلاسه کولو له پاره بنسټي تيره ده . ادب دانسان دتخيلي تجربو درابرسيرولو داسي ورتما اوقابليت لري ، چي لوستونکي بي ځانته ليږدوي ، په ادب کي دخوښښت او زموږ په روح کي د پرتو صلاحيتونو دراويښولو بوفوق العاده ځواك اوورتما پرته ده ، په ادب سره موږ دژوندانه ماهيت ترلاسه کوو چي همدا دادب ځانگړي مقام دي .
اديب هغه څوك دي چي هم د ادراك اواحساس صلاحيت اوهم داحساس داظهار وسه لري ، دااديب په احساس اواظهارکي دومره دنغي اوبهري وسعت پر اختيا اوژورتياپرته وي چي که تخليق کري ادب بي دانفرادي او شخصي ذوق ښکارندوي هم وي ، خو آفاقي اوهراړخيز به وي اديب چي څومره لوي وي ، همغومره بي تجربوي تنوع ، شعور ، احساس او داحساس اظهارسترااوآفاقي وي
په ادب سره ، لکه چي وويل شول اديب دنورويه تجربوکي ځان ورگډوي ځکه وايو چي دادب څوکي ته موږدخپل شخصيت پريوړيو څيږو، ادب دادراك په فوق العاده قوت سره زموږ تولي شتمني څوځوي او دشعورداسي سطحي ته بي راولي ، چي له هغه پرته هغه هرڅه پوښلي اونغښتي پرانه وي
که ادب نه واي ، نوانسان به نن هم ماشوم واي ، ادب انسان بلوغ ته رسولي

دي . دژوندانه په سهيرکي برمووداحساساتوبري ځيني تللي راغلي دي . ډيري نمکري معناوي مو په ذهن کي راگرځي ، له نا آشنا احساساتو سره مخ کيږو سرغراوي مونږ سرکي گرځي خوداهرڅه راته گونگ اوبي نومه وي اوجبه خوله راته نيريږي ، خوځير کله له نارل ، کيسي ، شاعري ، درامي يا نکوم مضمون له شکلبو اويملبو الفاظو سره سخاسخيږو نوادراکوربي اودغه حسبي احساسات ليوالتيا اوتجربي بولي مودشعور برخه شي اوبيا بويه ژوند انه کي دنويو معناوو په ورکه بسي گرځو ادب په ژوندانه کي دنويو معناوو دلټون نوم دي ! ده ځکه خوادب نه دژوندانه شعوروايي به همدي شعور سره موږبدليږو او دهمدي اوس به شان نه پاتي کيږو اوبه همدي به ادب سره په موږکي دفعاليت نوي هغه پيداکيږي دژوندانه داسي تجربي هم داد له لاري زموږ په تجربوکي راگډيږي ، کله مولبدلي اوختي اوريدلي هم نه وي اوهمدا تجربي زموږ دفکردود اولوړي بدلوي ، داچي وايو چي موږ دادب په وسيله دنورويه تجربوکي ځان داسي ورگډوو جي هغه تجربي گردسره زموږ خپلي تجربي شي ، ښايي داخبره ځينونه منلوښکاري ، خوداهله منلاي شي ، چي خپله ورکه باهدف ديوه اديب دتخليق کري ادبي اثريه هنداره کي ووينو
اوس پوښتنه داراولاړيږي، چي آخر دژوندون تجربو له ادراك پرته ژوندانه ابيسلي دي ؟ کولاي ؟
ځواب دادي ، چي ، نيرولاي بي شو ، خو تجربو سره که موږ ژوند بواځي ترنحچه تجربو پوري وگنو، نوژوندبه يوتورتم کو پاتي شي ، اوکيداي شي ، چي زموږ تجربي يوخطرناك رنگ واخلي ، او

داسي نا اندوبي راکي رامخته کاندي ، چي دژوندانه بيري دمثبت برخاي منفي ساحل ته بوري باسو
دادب په وسيله چي دنوروديي شميره لوي اوکوچني تجربي زموږ دشعور برخه کيږي نونه يواځي موږباوي اوترکمه بري کيږي ، بلکي دژوندانه لوري اواندول مو بري هم سمبيري ، عمومي تجربي خوگونکي وي ، اديب ورته دژبي په ورکولو سره نه بواځي موږته ادراك رابخښي ، بلکي ضمير موهم ربوي اوروښانوي
موږ زياتره اوريدلي دي ، چي داخبره حقيقت نه بلکي خوشي شاعري او افسانه ده دوبونکي ددي خبري دامطلب شو ، چي شاعري اوافسانه گواکي دروغ دي ، دهمدي حوکه دتجربي په رڼاکي وکتل شي ، نو دغو دروغوکي داسانسي تجربي هغه رښتيا اوحقيقت نغښتي وي ، چي موږ ته دربښتيا وو نوي شعور رابخښي ، جي اوله همدي امله ده چي ترڅو انسان اوانساني نوله ژوندي وي ، مويه دغه اديسو . ادب دآزادي دروغ ځرگندونه ده ، ادب دربښتيا وودلټون لده ، ځرنگه چي الفاظ اوکلمات له ښي سيلي نه اغيزمن دي سوادب دربښتيا اغيزمن ځمردي
په نننې نوي ژوندانه کي پرسايبس ييروبات زور اخول کيږي ، سهي ده ، جي دسايبس زموږدمونونه هرڅه راته ابستي خو فکر اواحساس بي له ژونده اوله همدي امله داوخت گرده دبوي سوپوونکي نااندولي په سبند ژوندله ټولو برمخگو اواخترعاتواوانکشافاتو سره سره له معنويت اوتوازن اوتعادل نه پاك دي نوځکه خونړبوال داوخت ديوه ايډيال اود

حقيقت ديوه انگورلي نظام په لټون کي دي ، جي انسان بکي ځان دمعنويت څښتن وگڼلاي شي ، اوداکار دادب له لاري کنداي شي ، ادب که له يوي خوا مونږته خوښي رابخښي دښکلايه احساس مومږوي ، دنوروپه تجربو سره موسمبڅلي کوي ، نوله بلي خوا دالفاظو اوکلمو په ښکلا سره احساس جذبات اوخيال نه ساوره عناصرونه داسي باکوي چي موږيي هم په لوستوسره لورتياوته رسو

داسلام دنيا

احتجاجي مظاهره وکړه ،داوخت توشل کلن وم ، يوکال بندي اوله اکادمي نه وشړل شوم دويم ځل په ۸۱ - ۱۹۸۲ ديوه خطرناك هيواد دښمني اودکمونيزم دسخت مخالف په توروني‌ول شوم ، داوخت ماترډي بوتيم کال دروس، بلغاريا ،البانيا اويوگوسلاويا دمسلمانانو دبشپړو بشري حقوقو په تباهي پرله پسي تنقيد کاواويه ښکاره مي د افغان مجاهد ينو د انقلابي غورځنگ ملاتړ، نوبندي توگه زنداني شوم ، خوله هغه ځايه دبين المللي احتجاجونو اويه بندرونوکي دمظاهرو له کبله دجنرال جروسلکي حکومت له يوه کال بندوروسته خوشي کړم خوځه وخت چي مي وليدل
چي په پولينډکي ديوه باعمله مسلمان په توگه ژوند سخت اوهم زما دمخ پتي سځي لپاره شرعي ژوند ناممکن دي ،نوپه ۱۹۸۳ کال مي دامريکا سفارت ته په مراجعه امريکايي شهريت لاس ته راوړ،او اوس په تيکساس کي له استرگتو مسلمانانو سره اوسم ،دارلتگان داسلامي شورا رکن او ديوه ژورناليست ،مترجم اومضمون نگار په ډول ژوند کوم .
پوښتنه : پراوسني اسلامي نړي څه پول تبصره کوي اوداسلام دراتلونکي په باب څه فکرلري ؟
ځواب : په گردواسلامي هيوادونوکي دنبکلاکي وخت يادگارونه عام دي ،يعني لويديزيالي دخولي مسلمانان چي يا دکمونستانو اويا داروپايي تهذيب ړانده مقلدين دي دلويدځ دابي مغزه پيښي کوونکي په اصل کي دخپلو اروپايي باداراتو " بياراگرځيدل غز " او په اسلامي هيوادونوکي دبي دينه اروپايي خواکونو لاسپوحي دي زه هغو د" خنيج ناروغه خلك بلکي داسلام رښتياني دښمنان گنم دا دنفس بندگان اودخپلي کسبکروي ،اودنکاح له رسمه اوخونورو پرته له اسلام سره کومي اړيکي نه لري ، داسلامي دنيا داتصوير پېرويږوونکي دي خو لله الحمد ځاي ،ځاي داسلامي ويښتيا به غورځنگونه راټوکيدلي دي له هغوي نه لوديزيالي اوداقتداريوري په ويره کي ده ،لوددغه ديني تحريکونو دماتولوسازشونه منځ ته راوري ،خوزه هيله لرم ،چي اخريه لويديزيالي ماتي خوري اودخپيځ دالکونه خلك چي په عملي ډول بي اسلام پرځان نافذکړي ،دلويديز دتازه دمراوخپاندو مسلمانانو په ملاتړيه ديوه نوي جهان تخليق وکري.
اوداسلامي ويښتيا به لمر به ددهريت دتورو وريځو پرده څيري ،اونړي به روښانه کړي خوشرط بي علم تقوي ،دعوت اودجهاد لاره ده .

داسلام دبیاوېښتا به لمربه له افغانستانه راخیژي

ژباړه اولنډېز(تاګار)

که دهغه ډېره زېروالي ته مايله اودسترګورنګ بې شين نه وي ،نوپه پومبي نظر ډاکتر عطاالله ګوپاتسکي افغان مجاهد ښکارېده دا دواسکټ اوپګړي خاوند دسړي پام ځان ته راړوي په سور سپين ،متشرع اوموسکي رنګه مخ بې دماشومانو غوندي معصوميت خوردي ، چې دتنتې بې حده مينې اوايماني تودوخې پکې حيرانوونکي رابښکون پيدا کړيدي . دپېښوستون په جبهه کي دهغه له مجاهدانه سرګرميونه هر سړي خبر دي ،اوپه عملي جهاد کي ي دګډون لپاره دافغانستان لاره هم نيولي ده ، نوموړي دپولېنډ اوسېدونکي اودهمدي هېواد په پوهنتون کي بې خپلې زده کړې ترسره ،ايچ ، ډي" رسولي دي هغه دپېښوستون دخوځښت نامتوکارمندۍ ، خوڅه وخت بې چې اسلام ومانه ، اوپه ځرګنده بې دافغانانو دجهاد ملاتړ وکړ ، نوروميي زنداني اوبياله خپل هېواده وشړل شو ، هغه ئن سبا دامريکا دتکساس ښاراستوګن دي ،هغه سرتړپايه اخلاص او داسلامي جوش اوغيرت پوړوندي انځوردي دهغه هرځل ليدل سړي ته دايمان نوي تازګي او تودوخه وربه برخه کوي داسلام دهراړخ په حواله چې دهغه دسينې پوره سپړنه ،شرح صدر) اوغيرمعمولي پوطرفي وليدل شي ،نوخوښي اوحيراني هم وي ،اوله خپل عمل سره دورته والي دجذبې رشك اوشرم هم ډاکتر صيب د اسلامي تاريخ په باب دژورنظرخښتن دي پوخت ورته چا دووډي خوړلو پروخت وويل ، چې وېل ووډي مو درته راوړي ،څکه تاسواروپايان مرچ نه خوري نوهغه وويل : دژوند هغه لاره چې ما پوره اودتل لپاره پرېښي تاسي مي بيا وراړول غواړئ ! ستاسودودي زماډوډي اوستاسي لباس مي لباس دي اسلام اومسلماني زما وروولي ده ، په همدي ډول دووډي لپاره دهغوي په فرش ناسته ډېره خوښه اوتل بې ستايي ډاکتر عطاالله له ترکانونه ډېرمتاثر اودبي دېني پرضد دهغوي ددېني وېښتيا اودعمل دجوش ډېرتعريف کوي ، دافغانستان په باب بې خيال دي ،چې داسلام دبياژوندااو وېښتيا به لمربه له همدي ځمکي راپورته کېږي اود ګردي نړۍ دتيارو پرضد به درڼا ګانو ملاترکوي ،دنوموړي دتقوي پته له دي نه نه لګي ،چې په بانکونوکي بې هيڅ پانګه نشته ،دهغه وېتا ده ،چې په هرډول بانکي پانګه کي څه ناڅه سړي په سودي نظام ورګډېږي دهغه فلسطيني نژاده ښځه په پښتواني دوړ برقعه (پرده) اچوي هغه پخپلو ليکونوکي د عيسوي تاريخ په ځاي هجري سنه ليکي هغه پخپل يوه ليك کي ليکلي ، زه هيڅکله هغه ښکلي يادونه نشم هېرولي ، چې په پاکستان کي دافغان مجاهدينوله کمپونو سره تړلي دي ، اوس هم چې کله سترګې پټدي کړم ،نوله دي مناظروسره لوبېږم . دلته په امريکا کي خلك په ډول ډول متقي احساساتو ، حماقت اوبې حسي اخته دي ، صنعتي پرمختيا حدته لري ، خو دژوند بې مقصديت ، اخلاقي زوال اوهر اړخيزه ناخوالي يې ځپلي ده دافغانستان اوپاکستان خلك له تقوي اوحيا نه لا لاس په سري شوي ندي ،که څه هم دلوېديز پالنې په ګناه دککړ مرض ځرګندي نښې ليدل کېږي خو دخداي (ج) په فضل زما داباوردي ،چې مونږ محمدي (ص) امت به ددغه عارضي مرض په قابوکولو بريالي کېږو اوپوخت به داسې خامخا راشي چې دحضرت رسول اکرم صلي الله عليه وسلم سنت پر کفرشرك ،فحش ،ظلم اوطاغوت بر لاسي شي ،خداي دخپلو اطاعت منتونکوبندګانو مرسته کوي ،او اسلام به دګرد بشري توکم لپاره دژوند بشپړ قانون وګرځي .دازمونږ په زيارونوپوري اړه لري ،چې مؤمن امت له دي مصنوعي حدبندي نه آزاد ،اواتحاد او ورورولي په لړي بې ورګډکړو. ددي هدف لپاره دخلافت دنظام بې حده ارتياده اوله دي پرته محمد ي ص امت کله هم له يوه بيرغ لاندي راټوليدي نشي ، ډاکتر صاحب پر پولېنډي ژبه سربېره په انګريزي ،روسي ،لاتيني ،يوکراني ،سرياني اوسلاوي ژبو عبورلري ، په امريکا کي هغه ددري مياشتني اسلامي مجلي (مسيج)مضمون ليکونکي او په چلوونکي ډله کي شامل دي ، له کاناډا نه د خپريدونکي يوي پولېنډي اونيزي په مديرانوکي ګڼ اوله انګريزي نه پولېنډي ژبي ته ديني ادبيات ژباړي .

پوښتنه : ستاسو کورني پس منظر،پلارني عيسايي توم ،رومېنې زده کړې اوحالات څه دي ؟

زماپيدايښتي نوم بوګدان انطوني ګوپاتسکي دي ،په پښتواني پولېنډي ژبه کي دبوګدان مانا عطاء الله ده زه د ۱۹٤۸ م کال دمي په اتمه دپولېنډ دشمالي سيمي په يوه کلي " کاتووايس "کي زېږېدلي يم زما موراوپلار دپولېنډ دمعزز اومعتبر خاندان ګوپاتسکي سره اړيکي لري ، اوپه پولېنډکي له اوسېدو سره سره دجرمن رنګه ژوند په رنګ کي رنګ وو . زموږدکورني زيات خلك دروومن کاتوليکي کليسيا په مذهب دي ،خو اوس بې ډېرومذهب ته په مخه نه ويلي ده زما مورهم اسلام منلي دي.

پوښتنه : تاسي اسلام ته کله اوڅه ډول راغلي ؟

ځواب : زه ديوه کوچني شاګرد په توګه دفرانسوي ښکيلاك پرضد دالجزاير دمسلمانانو له وسله وال جدوجهد نه ډېر متاثريم داداسلام پرومبني غښتي ؤ، چې زماله سيني سره جوخت شو. له دي وروسته مي له مسلمانانو سره دلچسپي زياتيدله او دبېلا بېلو اسلامي هېوادوو په باب مي ډېر کتابونه ولوستل ، خو دي کتابونو په عمومي ډول داسلام په باب دمتقي ځرنګوالي جامد تصوروړاندي کاؤ- پردي لاسربېره داچي دکمونستانو پروپاګند هم داسلامي ثقافت مخ خېرن شوده ،دعربواويهودو په شپږورځني جنګ کي دعربوکردار هم سخت په تشويش کي وغوروځولم ، ما داسلام دين دفلسطين"دپي ايل او " په انقلابيت ،عربي سوسياليزم اودنامريزم دتناظر له مخي کاته ،اوداسلام په هکله دډول ډول ناپوهيو ښکاروم .

زه پدي ورځو کي کلك مارکسيست لينينست وم ،او د" چې ګويرا" په ياد په جوروشو بېلابېلوتربيتي ځانګوکي مي په سرګرمي سره برخه اخيسته زه ۱۹۷۱ م کال دسودان لهومسلمانو محصلينو سره مخاخ شوم ، اودهغوي په وسيله راته داسلام درښتيانيوښکلاوو انکشاف وشو . له دي سره سره مي دمارکسيزم مطالعه هم په تنقيدي ډول کوله ، اواخرمي ددغه نظام په باب له سترګونه ګردي پردي لېري شوي ،او دي نتيجې ته ورسيدم ، چې روسي ښکيلاك په اصل کي د اروپا دبدنام ښکيلاګګرنظام وروستي نوي اودلوړي درجي شکل لري داوخت دنورو ډېرواروپايي ځوانانوغوندي زما مخه هم ديوه ډېربد اخلاقي ، سياسي او روحي بحران سره وه اوځان مي دجامد لوېديزتهذيب اوبي رحمه مارکسيزم ترمنځ خلاکي زنداني ګاڼه ، ددي خرابي اوزنداني فضا نه دخلاصول لپاره مي ددېنونوهراړخيزه مطالعه پيل کړه ،خوکوم سکون مي ونه موند دحق تنده مي زياتيده ،اوروح مي دخپل منزل اومرکز په لټه کي ناارامه وه ، اخرخپل وجدان اواز راکړ ،چې اسلام وازمايه ، ليري نده چې دپولو غمونو درمل ومومي ، ددي هدف لپاره مي ترکيي ته سفر وکړ ، استانبول ته چې ورسيدم نو ديوه جومات له منارونو نه مي په ژوند کي دوړومبي ځل لپاره دآذان غږ واوريد ، د اذان په الفاظوکي دومره رابښکون ؤ چې زه بې اختياره جومات ته روان اوپه صف کي ودريدم ،دلمانځه ترخلاصيدو وروسته زه ددي کوچني جومات امام صاحب ته ورغلم کلمه مي وويله ،اومسلمان شوم ،دامي پرومبي د مابنام لمونځ ؤ ، اودخداي (ج) په فضل تر اوسه يو ډاډمن اوخوښ مسلمان يم .

پوښتنه : داسلام دپېژندلو لپاره مو کوم کوم کتابونو اوليکوالو مطالعه کړي؟

ځواب : له قرآن وسنت نه وروسته چې زه له کوموعلما وو نه ډېرمتاثريم ،هغه امام غزالي (رح) مولاناتهانوي ، نورسي ، رح ،مولانا مو دودي (رح) مريم جميله ،مولانا ابوالحسن علي ندوي ،علامه اقبال (رح) او پروفيسر عبدالحميدصديقي دي .

پوښتنه : په اسلام اوعيسويت کي کوم ځرګند توپيرمحسوسوي ؟

ځواب :

اسلام دګرد انسانيت لپاره دژوند پوره قانون او دستورني بې عيبه لاره ده خو ددي پرعکس عيسايت يو داسې مرکب معجون دي ، چې که څه هم کله کله پکي دحضرت مسيح عليه السلام مسخ شوي ښوونې موندل کيږي خو په اصل کي پري ديوناني مشرکانه رسومات اوديهوديانو ديوماليت مسلط وي ،اوپه هرډول په انسان کي دکوم مثبت بدلون په رامنځته کولو سره بې پريکنده ناکامي په برخه ده .

پوښتنه : دپولېنډ دحکومت تګلاره درسره څنګه وه ؟

ځواب : له اسلام منلو وروسته بې په ۱۹۶۸ م کال زنداني کړم ،ګناه داوه ،چې پرچکوسلواکيا مو دروسي يرغل خلاف

(٤ مخ)

حقوق زن ازدیدگاه اسلام

مسئولين محترم نشريه شهادت !

با سلام نهايت صميمي ارزوش کنوني شما دربرنامه نشراتي ، آرزومندم مؤفق باشيد.

اينك دررابطه با موقف وحقوق زن مطالبي جهت نشر خدمت تان فرستادم که مرحمت تانرا در مورد چاپ آن آرزومند بوده وضمناً ياد آورمي شوم که اگر مسئولين محترم جريده شهادت در رابطه هاي ديگرو هم روي برنامه هاي نشراتي خويش دقت بفرمايند خالي ازمفاد نخواهد بود . درهرصورت موفقيت و پيروزي کامل برادران را درجهت نشر وپخش فرهنگ اصيل اسلامي از خداي متعال خواهانم.

باعرض ارادت

برادرتان محمدعثمان حليف

برادرحليف ازآنان مطلب مطول تحت عنوان نګاهي به شخصيت ومقام زن درافغانستان ارسال داشته اند ، دربن نوشته غالباً بربعضي نقاط مقاله هاي نشرشده درين زمينه توسط آقاي بقاعنده انګشت گذاشته است درآغازنشراين گونه نوشته ها يادآورشده بوديم که هرگونه نقص علمي وفني وغيره مربوط به نويسنده است ما آنرا اصلاح نخواهيم کرد ولي مقاله برادر موارد زيادي داشت که به موضوع مطروحه ارتباط محكم نداشت وباعث اطاله کلام مي شد که ناچار آنرا حذف نموديم ، حتماً اگر آنرا بطورمستقل مي فرستادند درقسمت نشر آن فکري مي کرديم . درين نوشته اگر چه ازکتب مستند وموثق استفاده نشده ونويسنده ادعاهايش را به استناد آنها به منصه اثبات نکشانده است ولي معلوم است که درآنان دسترسي به چنين کتب مشکل است بناً بخاطريکه زحمت وتکليف برادر رايگان نرفته وازنکات سودمندش ديگران مستفيد شوند آنرا بدست نشر سپرديم اميدواريم نويسنده محترم معذرت مارا قبول فرمايند

(اداره)

نګاهي به شخصيت ومقام زن درافغانستان

اگر اوراق تاريخ راورق زنيم ورويدادهاي تلخ ادوارگذشته را باقضاوت سالم وبي طرفانه مورد ارزيابي قراردهيم به اين حقيقت باوضاحت بي خواهيم برد که ستمگران وزورگويان درطول ادوار مختلف تاريخ ازتحميل زوروظلم وشکنجه درحق همنوعان حتي همراهان وهمګامان وهمسنګران خويش دريغ نورزيده اند وتاسرحد امکان ازآنچه درتوان داشته درجهت برآورده شدن امیال وآرزوهاي شان که برپايه هاي هوي وهوس هاي مادي ولذت هاي زودګذر قرارداشته ، کارګرفته اند

آشکاراست که اقوام وملتهاي ضعيف تاب مبارزه ومقاومت دربرابر اقويا ونيرومندان را ازدست داده وبه تباهي رفته اند (سرخپوستان امريکا) مادولتهاوحتي تمدنهاي زيادي رادر تاريخ سراغ داريم که دربرابر حريفان نيرومند بزانو درآمده وبه نابودي رفته اند اقليتهاي نژادي ومذهبي درادوار مختلف تاريخ جز بارمظلوميت بدوش نکشيده وجزدررنج والم نزيسته اند

وامادرمورد زن که اقليت واکثريت هم مطرح نيست وباوجود آنکه نيمي ازنفوس بشريت راتشکيل ميدهد ، باوجوديکه سازنده ترين رول ونقشي را درسازندګي فرد وجامعه بازي مي کند وباوجوديکه بارسنګين مسئوليت سنګين ! را درجامعه عهده دار است وباوجوديکه نميتوان ازسهمش درپروسه پيشرفت وترقي وتعالي اجتماعات انساني چشم پوشي کرد، باآنهم مورد مظالم دربساکي قرارګرفته تاجائيکه ازرنده بګورکردن شان نيز دريغ نورزيده اند هندوها امروزهم زن را زنده به آتش مي اندازند

طرح موضوع موقف وحقوق زن درجوامع اسلامي ازحساسيت خاصي برخورداراست به اين مفهوم که هرکس را زمانيکه همچو مساله بي را طرح کرده به فاسدبودن وفاحش بودن وکسي که مي خواهد جامعه را به فساد وانحراف وفحاشت بکشاند ، متهم کرده اند ومي کنند اين اتهام بعضاً آنقدر بي رحمانه وارد مي شود که افراد متعهد ، مبارزه ، مسلمان ومومن ومتقي هم ازآن جان سالم بدرنمي برند

سوال اين جاست که آيا به نرخ روزنان خوردن ، هرناروا وبادرست وبناسجا را صحه ګذاشتن وهرعمل زبان آور وبا عاقبت اند يشانه را ناصد کردن وسياه وسفيد وراست ودروغ وحق وباطل رادربك طرف انداختن وازهمه نابسامانيها چشم پوشي کردن و بك عمل و موقف اسلاميست ؟ اگرچنين است پس معلوم نيست که چه انگيزه باعث ګرديده تاما استعدادتسرح مبارزه کنيم ؟

واګر چنين نيست پس چسان ميتوان توجيه کرد که به مجرد طرح ضرورت وزارت امور نسوان درچارچوب حکومت موقت ، عده ازمايه ترك تالار اجتماع واداري شويم ؟ وچرا ازسهمي که تاامروزدرحق نيمي ازنفوس جامعه رفته ومي رود چشم پوشي مي کنيم ؟

اکنون که به اصل بحث وارد شديم درقدم اول سعي مي کنم سلسله مسايلي رادررابطه بادو مقاله ايکه درشماره هاي ۲٤۷ و ۲٤۸ وهم چنان مقاله ايکه به تعقيب آن درشماره بعدي نشر شده که به ګمان غالب بقيه يکي ازمضامين قبلي بايد باشد ، طرح نمايم

تقاضاي من از برادران محترم ونويسندګان مقالات نام برده اين است که اګرمن درطرح وارزيابي مسايل راه ثواب را نرفته باشم ، ميتوانند تا صراحت درجهت تنوير بنده موقف ګيري نمايند ومن به نوبه خويش ازراهنمايي هاي شان استقبال خواهم کرد واګر بارهم جمري درخورجواب دادن يافتم بارهم مسايلي راخدمت شان خواهم ګذاشت

وامادرمورد مضمون آقاي بداعنده حقوق زن ازنظردين مبين اسلام که درقسمت آخرستون اول مضمون ازدانشمند مصري بنام عباد عقاد نقل قول مي کند ومي ګويد که وي مخالف نهضت زن بود بايد به عرض برسانم که درين جا به دومطلب بايد توجه کرد اول اينکه خيلي ازدانشمندان با مسايلي موافق وبا مسايلي هم مخالف اند حتي ازنظر سليقه هم با بعضي چيزها مخالفت مي ورزند آيا ضروراست که مخالفت ويا موافقت آنها سايرافراد رابدون ارزيابي وتحقيق به عين موقف ګيري آنها وادارسازد؟ باشکه مخالفت باموافقت شان مارابايست به تفکروتعمق دربرومنه ودادار سازد تا آنچه قابل پذيرش ودرست است بپذيرفته وآنچه نابلست رد دارد ، زيګرنه ګذشته ازآن تازمانيکه درين جا اصولينهاي مطرح است مخالفت ويا موافقت افراد بي اثر مي ماند

ديګر اينکه نهضت دراديبات رايج وازنظر اصطلاحي ، امروز به مفهوم مثبت آن بکارمي رود

به عبارت ديګر به يك حرکت سازنده وسالم وبه يك قيام حق طلبانه ودرست دراديبات رايج نهضت مي ګويند . بنابران اګر نهضت زنان درمسير حق وبدريك جهت سازنده وسالم باشد چرا بايد آنرا نپذيريم و بايد آنرا به ګفته يك دانشمند که انګيزه موضع ګيري اش را هم آقاي بداعنده توضيح نداده اند ، کلا مردود قرار داده وروي آن خط بطلان بکشيم ؟ مګرهرفنباي زنان درزمان پيامبر بزرګواراسلام ازجنګال استبداد جاهليت که هم جان وهم عفت وهستي زنان رامورد تجاوز قرار داده بودند واسلام آنرانجات داد وبه زن مقام انساني بخشيد يك نهضت سالم درجهه ابعادش ويك حرکت رهايي بخش وسازنده انساني نبود؟

درقسمت وسط ستون دوم مضمون خويش آقاي بداعنده به مطلب بزرګي اشاره کرده اند وآن موضع ګيري قرآن دررابطه باانسان است که خداوند (ج) انسان راجانشين خويش وحاکم ومسلط برطبيعت ميداند

موضع ګيري قرآن خودبازوشاهت نمایانګر اين امراست که انسان جانشين خداوند (ج) در طبيعت است نه تنها جنس مرد وبه هم به تنهايي جنس زن بلکه کلاً انسان وابين يګانه موضع ګيري قرآني هم نيست بلکه درموارد متعدد به اين مهم پرداخته است که ما بعداً روي آن بحث مينمائيم

درهمين ستون ايشان مي نويسند که به هيچ وجه نميتوان کاريك جنس راتوسط جنس ديګر انجام داد وتلاش درين راه به معني ومفهوم تغيردادن اصل خلقت است . زن ومرد ازجهت معني بايد ديګر هيچ تفاوتي نداشته وباهم برابرند همانطوريکه مردبه خانم موافق طبع خود، به لباس ، خانه وخوراك خوب علاقمند است ، زن نيز درهمين موقف قرار دارد وازاين ناحيه ميان زن ومردهيچ نوع امتياز وبرتري وجود ندارد . امابرتري خلقت آن دوبهانه است

آنګاه ترجمه آيه ي ازقرآن کريم را تحرير نموده اند تانه قول خود شان تساوي مردوزن ، راثابت سازند تساوي بي که فعلاً خود شان با عنوان کرد ن برتري مرد رتکرده اند وبرتري ايکه قبل ازعنوان نمودن آن خودشان به رد آن پرداخته اند

بهرحال دررابطه با اينکه به هيچ وجه نميتوان کاريك جنس راتوسط جنس ديګرانجام داد وتلاش درين راه هم به معني تغير دادن اصل خلقت است ، فکرمي کنم که جناب ايشان درکاربرد کلمه هيچ خيلي ازعدم احتياط کارګرفته اند واسلاً جزئي ترين مورد استثنايي هم قابل نشده اند . متاسفانه که من بنام شان اينطور درك کردم که هيچ رابدون سرحد بکار برده اند اګر مي ګفتند که هيچ مرد نميتواند حمل بودار قابل تفهيم بود اګر به تفاوتهاي موجود که درحقيقت متناسبات اند ، اشاره ميکردند که بعداً کرده اند قابل فهم بود ولي ايشان متاسفانه هيچ هارا قسمي بکار برده اند که هيچ جايي را براي تفاهم نګذاشته اند

ادامه دارد

دکندهارولایت له یوه تکره قوماندان سره دشهادت مرکه

س – محترم قوماندان صاحب مهرباني وکړي خپل ځان دشهادت جريدې لوستونکوته ورو پېژني .

ج – زه عبدالولي پهلوان په قوم نورزي دکندهار ولايت سپين بولدك دولسوالي دميرګيانو دکلي اوسېدونکي اودشهيد ښاغلي محمد پهلوان دجبهې قوماندان يم .

س – محترم قوماندان صاحب که دکندهار ولايت داوسنيوحالاتو په باره کي څه معلومات راکړي مهرباني به مووي .

ج – دکندهار دولايت زياته برخه دمجاهدينو په لاس کي ده ، صرف دکندهار ښار ، هوايي ميدان اوبعضي ولسواليو فقط مرکزونه ددولت په لاس کي دي چې په هغوباندي هم دمجاهدينو بريالي عمليات روان دي ، په دي ورځوکي دميوند دولسوالي په مرکز دزېه ورو مجاهدينو له خوا عمليات شروع شوي اوسخت جنګ پکي روان دي ،زمونږ دجبهې مجاهدين چې په تخته پل کي اوسيږي هم دميوند ولسوالي ته ورغلي اوتراوسه بې ۳ پوستي فتح کړي ، دکندهار په ښاراو هوايي ډګرباندي هم مجاهدين هميشه عمليات کوي .

دکندهارولايت اکثره منطقې دملحد دولت دبمبارياو توپونو له لاسه وراني شوي دي ، اوسېدونکيې شاوخوا سيمواوياپاکستان ته هجرت کړي . کوروڼه په کنډواليدل شوي د کندهار ښکلي ښکلي سيمي ټولي وراني شوي په هرځاي کي دشهيدانو بيرغونه ريپيږي .

دانقلاب په اوږدوکي دکندهار خلکو دنورومجاهدينو په شان ډېري قرباني ورکړي ډېر شهيدان بې ورکړل خودکابل دمزدوررژيم حکومت ئي په ځان قبول نه کړ .

هرځومره که دکندهار خلکو زيات شهيدان ورکړل خودخپلې سيمي څخه ئي دروسانو ګورستان هم جوړکړ ، او داسې دعبرت درس بې ورکړ چې هيڅکله به بې هم هيرنه کړي /

۳– ايا دروسانو له وتو څخه وروسته دکندهار ولايت په حالاتواودمجاهدينو په حالاتوکي کوم تغير راغلي که نه ؟

ج : کله چې روسان په افغانستان کي ؤ دکندهار بعضي سيمي ددولت په لاس کي وي خودوي له وتوسره سم اکثره منطقې يوبه بل پسي دمجاهدينو له خوا آزادي شوي . دروسانو په وخت کي دهرتنظيم مجاهدينو ځان ځانته عمليات کول اويوله بل سره بې څنګه چې لازمه وه کمك نه شواي کولاي ، خوکله چې روسان له افغانستان څخه ووتل اومنطقې يوبه بل

پسي آزادي شوي ، مجاهدين هم يودبل په کمك په منظم او مشترك ډول عمليات کوي ديوې سيمې مجاهدين دبلې سيمي دمجاهدينو کمك ته ورځي ، لکه څنګه چې زمونږ مجاهدينوچې داروزګان دولايت په فتح اوفعلاً دقلات په جنګ اودميوندولسوالي په عملياتوکي ګډون کړي اودخپلو مجاهدو ورونو سره يوځاي دکمونستانو پرضد جنګيږي .

س : دکندهار دمجاهدينو وضع په خپل منځ کي څنګه ده ؟

ج : دکندهار مجاهدين دخداي (ج) په فضل ټول په اتفاق دي خپل منځي اختلافات بېخي نه لري دټولو تنظيمونو مجاهدين لکه دوروڼو په شان په يوه سنګرکي دکابل دمزدوررژيم پر ضدجنګيږي . موږ دمنطقې په سطح .۱۲ کسيزه دقوماندانانو شوري لرو چې دسيمې ټولي ستونزي دهمدغې شوري له خوا حل کيږي .

س : دقلات دجنګ په باره کي که لږ معلومات راکړي اوآيا دا جنګ دټولو تنظيمونو له خوا په ګډه پيل شوي اوکه خاص د کوم يوه تنظيم له خوا ؟

ج : په قلات کي له ډېري مودي راهيسي جنګ روان دي دزابل ښاردمحاصري کړي وروورو تنګيږي دښارلاندي چې ددولت کومې پوستې دي هغه دمجاهدينو دبرياليوعملياتو له کبله فتح شوي اوس يواځي اوبواځي بالاحصار ددولت په لاس کي دي . په دي جنګونوکي دولت ته ډېرځاني اومالي زيانونه رسيدلي دي مجاهدينو ډېري کاميابي ترلاسه کړي ډېرغنيمتونه په لاس ورغلي جنګ اوس هم په ډېر شدت سره روان دي دزابل په ښار باندي ټولي اکمالاتي لاري بندي دي ددولت عسکراوملېشه له ډېرو مشکلاتو سره مخ دي .

داعمليات دکوم خاص تنظيم له خوانه دي شروع شوي بلکه په دي کي دټولو تنظيمومجاهدين برخه لري ، ټول په اتفاق اواتحادسره دخپل مشترك دښمن مقابله کوي .

س : دمجاهدينو درهبرانو دوروستيو ناستو ولاړو اودهغوي دبعضوتړاګفاتو په باره کي تاسو څه نظرلري ؟

ج : مونږ هميشه داغوښتي اوهيلهمندا موېوالځني هيله ده چې دجهاد رهبران يودبل سره اتحاد اواتفاق وکړي يوبل سره کښيني خپل منځي اختلافات ختم کړي خپل مشکلات په خپله يودبل په مرسته حل کړي .

زمونږ دجهادکاميابي په اتفاق اواتحاد کي ده هروخت چې مونږ يوشوو اواختلافات مولري شول نو مونږ به که دخداي (ج) رضا وه حتما کاميابيږو . اختلافاتو زمونږ انقلاب اوجهادته ډېر تاوان ورساوه زمونږ له بې اتفاقي څخه دکابل رژيم ډېره ګټه واخيسته ټولو داويل چې دروسانو له وتو څخه وروسته دنجيب حکومت يوه هفته هم نه شي پاتې کيدي خوزمونږ دبې اتفاقي له امله دنجيب حکومت تراوسه پوري هم نسکورنه شو .

س : په کندهار کي دکابل رژيم په څه حالت کي قرارلري ؟

ج : دروسانو له وتو وروسته دکابل رژيم په کندهارکي دفاعي حالت غوره کړي اومجاهدينو له بريدونو څخه هيڅ کله هم په امان نه دي پاتي شوي دمجاهدينوله انداختونو څخه ډېره تنګ دي نوريې څه له لاسه نه کيږي فقط په بې رحمانه بمبارونو دثقيله سلاح ګانو استعمالولو دبې ګناه خلکو کوروڼه ورانوي اوډېربې ګناه خلك په شهادت رسيږي .

س – کله داسي آوازي خپري شي چې ظاهرشاه دکندهارله لاري افغانستان ته راځي داخبره ترکومه ځايه حقيقت لري ؟

ج – زمونږ په خواکي دهيچا نه ده خوښه چې ظاهرشاه دي بيا افغانستان ته راشي ځکه چې دا ټولي بدبختي چې مونږ ته راپيښي دي دظاهرشاه له لاسه دي . ده دجهاد په اوږدوکي دافغانستان دخلکو حتي يوه پوښتنه هم ونه کړه ،نودي به بياڅنګه افغانستان ته دحکومت دجوړولو لپاره راځي . دکندهار خلك هيڅکله هم ظاهرشاه نه غواړي اوپه کندهارکي ده دژوند ضمانت هم نه شي کولای

س : محترم قوماندان صاحب په اخرکي که تاسو دافغانستان مجاهدينو ته څه ويل غواړي؟

ج : دافغانستان مجاهدينو ته داويل غواړم چې خپل منځي تنظيمي اختلافات ختم کړي او دوروڼو په شان خاص دخداي درضا په خاطر خپل جهاد ته دوام ورکړي ترڅو مو ملك آزادشي او دا دروسانو غلامان موله ملك نه ورك شي . زمونږ جهاد به داسلامي حکومت تر جوړېدو پوري دوام لري .

دحضرت حمزه (رض) دغنډله قوماندان سره مرکه

لمړۍ پوښتنه خپل ځان دشهادت ګرانولوستونکو ته ورو پېژنئ ؟

دلمړۍ پوښتني ځواب

زما اصلي نوم لعل محمد په داکتر جعفرمشهوريم دلغمان ولايت دعليشنګ دولسوالي اوسېدونکی دحضرت حمزه (رض) دغنډ چې په کنړونو کي موقعيت لري قوماندان يم

دوهمه پوښتنه : حمله په دجهاد دپيل اوولنيو بدلونونو په باب ريا واچوي

ددوهمي پوښتني ځواب : بايد ووايم چې چې په ۱۳۵۷ کال دثوريه اوومه دروسانو په مستقيماً مرسته دکمونستانو له خوا لويه فاجعه رامنځته شوه دافغانستان مسلمان ملت دکمونستانو په مقابل کي په وسله وال جهاد پيل وکړ ، بخواني ساده اوښکاري وسله وه خو دخپل بالله ټينګي عقيدي په اساس ئي دخداي جل جلاله په مرسته په بيلابېلوموده کي دد ښمن قوي مرکزونه دمجاهدينو له خوافتح اوبېري عصري وسلي دمجاهدينو په لاس ورغلي او دروسانو ګوډاګي رژيم له ماتي سره مخامخ شو روسانو چې ناحال وليد دولکو پوځونو په دريعه دخپل منفور اومزدور رژيم ددفاع په خاطر پرافغانستان يرغل وکړ دروسانو په تيري سره دافغانستان قهرمان ملت ايمان لاپسي قوي شو په ځاي کي ئي روسانو ته ماتي ورکړي په سلګونو زره [illegible] روسانو دلسوکالو

جنګ څخه وروسته مجبورشول په ډېره رسوائي اوخجالت خپل پوځ دافغانستان څخه وباسي کله چې روسان په افغانستان کي له ماتي سره مخامخ شول ددي ماتي اغيزه په هغه هېوادونو چې دروسانو تراستعمار لاندي ووهم پريوته دغه هېوادونه هم دروسانو په مقابل کي پاڅون وکړ هغه لرو چې دغه هېوادونه خپله آزادي ترلاسه اوبيا اسلامي حکومت هلته حاکم شي

دريمه پوښتنه : ګوروچي ختيځ اولويديځ ټول زيارباسي چې په افغانستان کي ديواسلامي حکومت تشکيلېدو اوجوړيدو مخه ونيسي ددغو دسايسو دشنډولو لپاره څه تدابير لازم بولي

دريمي پوښتني ځواب : دابو ثابت اومسلم حقيقت دي چې په ټوله نړۍ کي اسلام دښمنه بلاکونه داسلامي حکومت څخه ويرېږي ځکه په اسلامي حکومت کي دهغوي ګټي له خاورو سره خاورې کېږي په همدي وجه شرق اوغرب غواړي چې په هرقيمت شي په افغانستان کي داسلامي حکومت دجوړېدو مخنيوي وکړي خوهغه چي دملت ټول وګړي دي ته حاضروي چي له اسلامي حکومت پرته بل څه نه مني نو سبايه حتماً دشرق اوغرب دغه دسيسي شنډيږي

ددي دسيسي شنډول څوعامله لري

اول په افغانستان کي ټول جهادي قوتونه بايدمتحد شي

دوم وسله وال جهادته ادامه ورکړل شي خو دبوخي لپاري ملحداومزدوررژيم ماتي وخوري

دريم . يومنتخبه اسلامي شوري چې په هغه کي ټول جهادي قوتونه دخپل قوت په تناسب نمايندګان لري اوږکولاي شي په هېوادکي اساسي قانون اوقانون نافذ کړي

څلورمه پوښتنه : که په هېوادکي دانتخاباتو په باب خپل نظر وواياست ؟

دڅلورم سوال ځواب : دافغانستان دتشبي بواربيي حل لپاره انتخابات دي که جګړي ګران افغانستان کي يومنتخب اسلامي حکومت جوړ شي ټول باطل قوتونه به له ماتي سره مخامخ اودمجاهدينو خپل منځي ستونزي له منځه لاړې شي ټول سياسي قدرتونه دجهادي قوتونو ترمنځ دسياسي نمايندګۍ په اساس تقسيم شي يعني مشکل به همدي شکل حل کړي اوس

پنځمه پوښتنه : آيا ستاسي په نظر اوس ددي وخت رارسيدلي چې مهاجرين بايد خپل هېواد ته ستانه شي اوکه ستانه هم شي باید په څه ډول

دپنځم سوال ځواب : زما په نظر ترڅو پوري چې مزدوررژيم په افغانستان کي نه وي سکورشوي ، اوهغي پرځاي اسلامي منتخب حکومت نه وي جوړشوي ، افغانستان ته دمهاجرينو تګ به بې فايدي وي ، ځکه مهاجرين پدي خاطر هجرت ته مجبور شوي چې دهغوي اسلامي عزت ترپښو لاندي شوي ؤ ، هغوي له خپل مال او اولادڅخه بدي تيرشوي چې په افغانستان کي يو اسلامي حکومت جوړشي

ترڅو چې اسلامي حکومت نوي جوړشوي ، مهاجرين به افغانستان ته نه ځي ، ځکه بوازي اسلامي حکومت دي چې دهرچا حقوق جوندي ساتي

افغان مسلمان مجاهد ملت وکړاي شول نړيوالو ته دخپل اسلامي جهاد حقانيت اومشروعيت جوت کړي

سپا اروال

له هغې ورځې ته چې زموږ په اسلامي هېواد ګران افغانستان کې داسلامي نهضت دتاندېدو اوپېداوړې کېدوله پاره دځوانو مسلمانانو له خوا همت ،کاراومبارزې ملاوتړله شوه اوپه دې سپېڅلې لارکې دخداي (ج) درضا، خوښې اوخوشالي له پاره داسلامي جهاد اوسرښندنې ژمنه وشوه وورسره سم دنړۍ اهريمني ،طاغوتي اوشيطاني ځواکونه دکمونيزم اوصهيونيزم په جامه کې زموږدهېواد داسلامي نهضت اوغورځنګ دځپلوله پاره راولاړشول او له لومړي سره يې داپريکړه وکړه چې دوي بايد زياروګالي چې په افغانستان کې داسلامي نظام دراوستلو مخه ونيسي اوپه دې لاره کې يې هسې ګړندي ګامونه پورته کول پيل کړل چې نه يې دچا خبره شپه پېژندله اونه يې هم ورځ.

داچې تردغه وخته پورې زموږ په اسلامي هېوادافغانستان کې داسلام سپېڅلي دين ناقد او چليدلي ،ساتلي اوپاللي شوي دوخت اوزمان له نادودوسره سخت لاس اوګرېوان شوي خودخداي په فضل اورحمت داسلام دښمنه ډلوټپلو له هر راز دسيسې اوتوطيې څخه هم ژغورل شوي اوتردې وخته رارسيدلي ؤ.داسلام دښمنانو غوښتل چې زموږ پاك سپېڅلي اسماني كتاب قرآن عظيم الشان اوداسلام دمبين دين نوورموازين اواصول له منځه يوسي ،مسخره يې كړي اوكم يې وبولي چې په دې برخه كې ډيرمستند اثار،اسناد اودلايل شته چې زموږ دادعا ثبوت وكړاي شي .

خوله دغه رازتورو دسيسواوتوطيوسره زموږ پلرونو اونيكونو په واروار لاس اوپنجه نرم كړي دوخت ديني عالمانو ، پوهانو ،غازيانو اومبارزينو ورسره ډغري وهلي اويدنيته دښمن ته يې غابښ ماتوونكي ځواب وركړي اوپه انفرادي جتوجهد يې له دولتي زورواوقوت پرته دهېواد په كلبواويانيوكي داسلام دسپېڅلي دين ډېوې روښانه ساتلي اوپه اوښبوشپو وركوكي دوبروبار ستاينې اوپادوني خبره داده چې شرايطو ايجابول چې داسلامي جهاد دورډې بيا تاندار پيل يې داځكه چې صهيونيستي -اوكمونيستي قوتونو يوغوځ اسلامي استدلال اوځواب ته اړتيا درلوده .

له نيكه مرغه دغه غرځ اوځپونكي ځوابونه دنړۍ ډېرسترالحادي قوت روسي كمونيزم ته دافغان مجاهداومبارز ولس له خوا وركړل شول اوپه نړۍ كې يې داسلامي نهضت اوجهاد داصيلو لارويانو اومبارزينو اتلوال نوم ،نښان اولقب وګاټه .

كه څه هم په هېوادكې ډېركلونه پخوا اړتيا وه چې اسلامي جهاد پيل اوډېرپاليتوب تر پولو بايد رسول شوي واي خو دا كار په ځانګړې اوانفرادي توګه روان ؤ ،اوروندي جاري يې دعالمانو اوپوهانو له خوا په انتفرادي ډول پرمخ بيول كېدلي او دوخت غوښتنه داوه چې بايد دشيطاني ډلو ټپلو دېښمني اوپوره مخنيوي له پاره يوځواكمن اسلامي غورځنګ په كاردي ترڅو دېووالي ،اتحاد اواتفاق په څيوكې داسلام دښمنوعملونو مخه ونيسي داځكه چې دوخت رژيمونو هم په اصل كې داسلام ساتنې اواسلام پالنې كومه پروا نه درلوده .

نوپه همدغه اساس دهېواد مؤمنو ،مجاهدو اومبارزوځوانانو په هېوادكې دځوان اسلامي غورځنګ دبنسټ ډېره كېښوده اودغه بنسټ ډېر ژرهوره پياوړي وغښتلي شو چې دجوړېدو ارتيايي ښه څرګنديدله. په هېواد كې ددغه خوځښت له پيل سره يوشميراسلام دښمنه ډلې ټپلې چې دكمونيزم اوصهيونيزم له خوا په بيلوبيلو نومونو جوړې شوي وې دمسلمانو ځوانانو په وړاندې يې په څرګندو دښمنيولاس پورې كړ اوپه ښكاره ډګريې دهېواد پلورنې اوكمونيزم له پاره لاس په نامه نوكري ته ملاوتړله اوددغه شوم غرض له پاره يې ناوړه پلانونه طرح اوپيل كړل خو دلوي خداي (ج) په فضل زموږ داسلامي نهضت ځوان مشران دزاړه دښمن دزړوتوطيواو دسيسو له چلول څخه روغ رمټ اوبريالي راووتل .

زموږدځوان اسلامي نهضت لارويان په لږوخت كې وپوهيدل چې دنړۍ ټول اسلام ضدقوتونه دكمونيزم اوصهيونيزم په جامعه ،تن او وجود كې داسلام پرضد په تيره بيا په افغانستان كې داسلامي نهضت دځپلوله پاره يوموټي شويدي نوددغه راز قوي دښمن په وړاندې ديوه ځوان اسلامي نهضت په پښودريدل اومقابله كول كوم اسانه خبره اواسانه كار نه وو خوله نيكه مرغه چې لوي خداي دځپلې لارې اتلانو ته هسې علمي اوسياسي پوهه وركړه چې دپوهې اوجهاد په ډولوسنګرونوكي يې له ملحدودښمنانو سره ډغري ووهلې ، دښمن ته يې په سياسي ،علمي اوپوهنې ډګرونوكې پرله پسې ماتې وركړې.

زموږ په ګران اسلامي هېوادكې داسلامي نظام دراوستواوټينګېدوله پاره هسې سرښندنې او قرباني ترسره شوي چې دهغوله بركته اوس دهېواد ټول ګوټونه دجهاد پرروښانه ډېوو روښانه ساتل شوي اوهمدغه ستروياړونه دي چې نه يواځې موږ اوزموږ هېواد يې دكفري اوالحادي نادودو څخه وژغوره بلكي په نړۍ كې يې دكفراوالحاد نوي بنيه چې دكمونيزم په نوم خپره شوي وه له منځه يوړله . زموږپه اسلامي خاوره كې دصهيونيزم په ملاتړ دكمونيزم مزدورانو داسلام ، مسلمان اواسلامي نهضت پرضد هسې تورعملونه كړي چې په يادولويې هم دسړي ويښتان راځېږي .

كله چې له اوږدي مودې وروسته دروسي كمونيستو طراحانو پلانونه په افغانستان كې دخلقي اوپرچمي مزدورانو دكمونيست رژيم په راوستوسره عملي شول او له نيكه مرغه چې ددغه رژيم واكمنو له لومړي ورځې څخه تر اوسه پورې هيڅ داسې كوم كار نه دې كړي چې دهيځ افغان مسلمان په زړه برابر اويالږترلږه ديوه خوږمن نړيوال په خوښه وي داځكه چې روسانو خپلو مزدورانو ته دوژلو ،وهلو ټكولو ،ځپلو ،چور او چپاول كولو له درس اوسبق نه بل څه نه وو ورښودلي او دا ټول بياهغه تورعملونه دي چې هيڅ وجدان لرونكي انسان يې نشي منلي او دكمونيستانو همدغه له اسلاميت ،انسانيت اوافغانيت څخه ليري كارونه وو چې دغه ديشردښمنان يې ښه وپيژندل كه څه هم داسلام اوافغان دغو دښمنانو خپلو تورو عملونو ته هسې پوښونه ورآغوستي وو چې ګواكې ويه كړاي شي دنړيوالوله سترګو به يې پټ كړي . خو افغان مجاهد اومؤمن ولس په روان څه دپاسه دولس كلن جهاد كې وكړا ي شول ټولو نړيوالو ته دحق اوحق ويلو . ليدلو توان ژبه اوسترګي وركړي اوټوله نړۍ دخپل برحق اسلامي جهاد پرخرنګوالي اومشروعيت خبره كړي ، نن به په نړۍ كې هيڅ داسې هيواد اوټولنه ونه ميندل شي چې هغه دې دافغان مسلمان مجاهد په اسلامي جهاد نه وي خبره اويالږترلږه دې دمجاهدينو له برياوونه يې خبره پاتې وي ، داچې نن په كابل كې دملحد رژيم روسي مزدورواكمن كسان غواړي چې خپل تور اوكرغيرن عمل هسې نړيوالوته وښايي چې ګواكې دوي يعني كمونيستان خوډير مهربان اوزړه خوږي وګړي دي ،دوي دافغانانو له غم اوويرنه هسې ناآرامه دي چې نه خوب لري اونه خوراك ، خونړيوال دغه بې عمله غداران اوخاين وګړي ښه پيژني چې ويل اوكول يې څومره سره ليري اوتوپير لري .

دوي هومره افشا اورسوا شوي چې كه چيرې كومه ښه خبره هم وكړي څوك پرې باورنه كوي .

موږ نړيوالو ته په وار ، وارهسې سندونه ، عكسونه ، تلويزيوني اوسينمايي مستند فلمونه ورښودلي چې هغوي اوس تربل هروخت ته زيات زموږ داسلامي جهاد په برياليتوب باورلري اوحقانيت يې ورته جوت دې ،ددغه رازغوره سندونو په لړكې نن پرون دنجيب اودهغه درژيم پرضدبويل نړيوال معتبر سندهم څپورشوچي اوس هيڅ چاته په كابل كې دروسي ګوډاګي رژيم پاتې كيدل روا كار نه ښكاري اونشي كيداي دهغوي تورعملونه او درواغجن تبليغات اوپروپاګندونه ومني .

په دې څوتېرووورځوكې دملګرو ملتونو دسرمنشي واكمن استازي هيئات د بنواس په مشري سيمي ترسفروكړ، هيئات ډيو لړكاروتو اواروند وچارولو څيړلو وروسته دملګروملتونو سرمنشي ته په ريوټ كې وويل چې : " په افغانستان كې هيڅ وګړي حاضرنه دي چې پرنجيب اويا دهغه په ملګرو باندې راټول شي . داځكه چې څه دپاسه دوولس كاله وشول چې ددوي رژيم له افغانانو سره په جګړه بوخت دې هغوي افغانان وژلي اودنجيب دخاد د رياست كړه وړه يې ښه په يادوي.

ددغه هيئات حق ويلو ،حق كتلو اوحقپالنو يوځل بيا په نړۍ كې دكابل دمزدوررژيم ناوړه سلوك ښه لوڅ اوبربنډ كړ .

راغلي ليكونه

ګېرډېرليكونه دجريدې اداري ته رارسيدلي ، خوموږ تراوسه له هيڅ ډول پيسي نه دي اخستې ان شاء الله ډيرژر به په دې باب تصميم ونيسو . ستاسي دخوښي په هيله

####

دهنګو جان خان مجاهد!

سلامونه مووځي

دشهادت جريدې سره موله مينې نه منته ، جريده به له خپلې نمايندګي نه ترلاسه كړي ، داشتراك په باب به يې په راتلونكي كې تصميم ونيسو دعلماو دمسئوليت په باب به ستاسي ليكلې حديث درنقل كړو

###

دمحمدي ليسې زده كوونكي محترم وروړجان محمدهمكار!

سلامونه

ستاسي رااليږلي مطلب موولوست ، نشريې لازم نه بولو هيله ده مانيجن نشي . ستاسي دبرياليتوب په هيله .

##

دمردان ددينې طلباو ناظم محترم ورور حضرت ولي هاشمي !

السلام عليكم

كري ګيله مو په سرسترګو، دتوزيع ورونو ته مو په دې باب يادونه وكړه هيله من يو اخباريه منظم دررسيږي .

##

دجعفربن ابي طالب دمدرسې مسئول !

سلامونه

دشاګردانو په ساله اواسلامي روژنه كې دلوي خداي (ج) نه درته دلاتوفيق غوښتنه كوو رااليږلي عكس به موان شاء الله چاپ شي يوځل بيا سلامونه

###

ګران ورور قمرالدين مسلميار صاحب !

سلامونه

تاسي چې غوښتي تخلص موله مسلميارنه په قمربدل شي ستاسي له غوښتنې سره سم مود اكاروكړ هيله ده ورونه تردې وروسته درته قمر صاحب ووايي شهادت جريده به له خپلې مربوطې نمايندګي نه ترلاسه كړي درنښت .

###

ګران ورور يارولي !

سلامونه اوتيكي پيرزويني

دنامه دبدلون په باب به له يوې جهادي اداري نه تصديق راوړي . درنښت

###

ګرانو ورونو ! اخترمحمد وحدتيار اوحسن خان فاروقي !

سلامونه هم ومني

دنامه د بدلولوپه باب به له يوې جهادي اداري نه تصديق راوړي

##

ګران ورور يارمحمد صادق دصوابي دېره كې كمپ اوسيدونكي !

زموږ سلامونه اودوعاګاني

وروره تاسي چې دڅه په باب پرموږكومه نيوكه كړې هغه تاهم پخپل ليك كې كړي پرموقت حكومت زموږ انتقادات هميش قانوني وي موږ حكومت تل خپلو كړو ژمنوته متوجه كړي اودولس پام هم دي خوانه رااړولي . په خداي دې سپارو

###

مجاهد ورور رشناء الله ابراهيمي !

زموږ سلامونه هم ومني ، دشهادت جريدي په باب ستاسي له نيك نظرنه ډېره منته ، موږ تل داهڅه كړې چې دلوستونكو دپاملرنې وړمطالب چاپ ته وسپارو هيله ده دتوزيع په باب به هم ستاسي ګيله په پام كې ونيسو . دخداي پنه دي

####

دشهيد عبدالكريم روغتون د توجه وړ :

دشهادت اونيزي اداري محترمو كاركوونكو خداي (ج) موپه خپل كاراوچاروكښي تل بريالي لره .

محترمو كاركوونكو البته زموږ دالمړي ليك دي چې دشهادت اونيزې اداري ته ئې دراستوواميددي چې چاپ اوشهادت محترمو لوستونكوته ئې تقديم كړي .

څرنګه چې حزب اسلامي يوازيني صف دي چې دخپل ملت له عرضونو اواميرونو څخه واقف دي اوهمداحزب دي چې له خپل ملت سره په ټولو كړاوونو او مصيبتونوكښې ملګري وي .

اوهمدا يوازيني تنظيم دي چې دخپل ملت له آرزوګانو سره آشنادي .

په دې حزب كې به هغه كسان اوسي چې هغه دملت له غم اودرد څخه باخبره وي . نه هغه كسان چې پرون له كابل څخه راغلي وي داكسان به د خپل غم ځپلي ملت سره څه عمل كوي؟

د مثال په طور په نصرت مينه كې دشهيد عبدالكريم په روغتون كې اكثره داكتران له مراجعينو سره ډير بدرفتار اوكرداركوي خصوصاً هغه داكترصاحبان چې نوي له كابل ته راغلي دي - زه دغو داكترصاحبانوته وايم چې تاسي به څنګه ددې ګوډلي اوكړيدلي ملت دارو دوا كړئ ، په داسې حال كې چې حزب اسلامي ته دملت ډير ډير اميدونه دي . تاسي به د حزب اسلامي نوم څرنګه اوچت كړئ دخداي په لحاظ له دې وروسته خپل ملت مه ځوروئ او دملت عرضونو ته لبيك ووايئ .

هيله ده چې زمادالبك څپرراود شهيدعبدالكريم روغتون كاركوونكي له دې مشكل څخه خبركړي . والسلام ضياء الله "بابكرخيل" دښاري كلا څخه

نجيب وهياهوی

درداخل رژيم كابل دررابطه با حل معضلهٔ افغانستان وبرقراري صلح ، دونوع گرايش روز بروزوضاحت بيشتري يافته وحتي ميتوان مدعي وجود دوجناح گرديد .

گرايش اول نظرجناحي است كه باواقعيت هاي ملموس سرسازگاري دارد . اشخاص داراي اين گرايش معتقداند كه بدون جلب موافقت گروههاي قدرتمند مجاهدين ، بازگشت صلح وثبات به افغانستان ممكن وميسرنيست . ازآنجاكه گروههاي قدرتمند خواهان سرنگوني رژيم نجيب وجانشين ساختن يك نظام اسلامي بجاي آن اند بنابراين بايد نجيب بركنارگرديده وزمينه براي انتقال قدرت ازطريق صلح آميزممكن گردد . درچنين صورت كسانيكه درسرنگوني نجيب نقش داشته اند ازعفو عمومي مجاهدين برخوردار خواهند گرديد .

گرايش دوم درميان جمعي از اعضاي رژيم كابل اينست كه ازآنجا كه گروههاي اسلامي بنياد گرا در ميان اپوزيسيون ازنظر نظامي درموقعيت قوي ترقرار دارند . بناءً بخاطر نقش مسلط آنان درروند جهاد وحضور قدرتمند شان درسنگر ها ، سرنگوني رژيم نجيب به معني نابود ي كامل حزب ديموكراتيك خلق (حزب وطن فعلي) وپايان حيات سياسي آن خواهد بود براي جلوگيري ازچنين حالت بايد دست بدامن شخصيت ها وجناحهاي غيرمعتقد به استقرار يك نظام اسلامي در افغانستان گرديد زيرا برقراري يك نظام ديموكراتيك به شيوه غربي آنگونه كه دركشورهاي اروپاي شرقي ديده شد ميتواندبقاي حزب ديموكراتيك خلق رادرآينده سياسي افغانستان تضمين نمايد جناحهاي داراي اين دونوع گرايش متفاوت درسطح نظامي وملكي درنظام كابل قابل تشخيص اند .

دوران اقتدارحزب مردم درپاكستان كه همه تلاشها درجهت تضعيف جهاد بكار گرفته شد اميد هاي جناح دوم يعني جناحي راكه ازگذشته وازجنايات خويش دربرابر ملت نادم نيستند تقويت كرد ولي تحولات درتقريباً سه ماه اخيرسيري مخالف ميل اين جناح داشت . سرنگوني حكومت بي نظير وبوجود آمدن حكومت اسلامي جمهوري اتحاد، نزديكي دوحزب قدرتمند مجاهدين (حزب اسلامي وجمعيت اسلامي) وبالاخره آغازعمليات هماهنگ مجاهدين دربسياري ازنقاط افغانستان ، صائب بودن نظرجناح اول راتائيد كرد وبه طرفداران آن افزود .

